

# عبدالحفیظ « ملیار - ساپی »

د نشرنيټه : 5 جولای 2024 میلادی

# کاشکې!

ارامه شان فضا چې وای
معطره شان هوا ، چې وای
غير نه وي ، غماز نه وی
بې غمه دنيا چې وای
خواته دې جانان راشي
شونډو کې موسکا چې وای
ښکلي ښنتنه پېغله
چنګه نرۍ ملا چې وای
سترګې د نرګس په شان
ډکې له حيا چې وای
ته يې زلفې سمې کړې
ډکه خوله خندا ،چې وای
په مينه مريدل نه وي
سترګو کې ګډا چې وای
جذبې د محبت ګرمې
زړونو کې درزا چې وای
ځان ترينه قربان کړې ټول
مينه بې ريا چې وای
ژوند د خدای نعمت ګڼه
سوله او صفا، چې واي
ښنار لاندې « مليار» ناست وی
بر بلبل، بورا چې واي
« مليار» د ځواني دور
کاشکې يوځل بيا چې وای

***

عبدالحفیظ « ملیار »